سرلوخ مرادزی

۲۰۱۸ / ۰۶ / ۱۷

طالبانو سره اوربند، د افغانانو د خوښی اوښکې وبهولې!

په یوه ویډیو کې چې د «کابل ټکی کام» په مټ خپره شوې، په کندهاري ویینګ(لهجه) د سولې یو ارمانجن ځوان په ژړا او چیغو طالبانو او د هېواد پوځي ځواکونو ته سوال او زاری کوي چې «جنګ بند کړی او سوله وکړی. نوموړی وایي څلور زامن مې دي ټول قتل شي، خو چې ستاسو جوړه او سوله وشي»
په ژړه غوني غږ، د دغه ځوان د روغې جوړې او سولې سوال ته، داسې افغان نه شي موندلای چې ونه ژاړي او اوښکې توی نه کړي!
د اوربند او دایمي سولې په اړه د ټولو افغانانو د زړه غږ یوشان دی، ټول د سولې ارمانجن دي او تر خوراک او څښاک مخکې سوله غواړي!
د افغانانو همداسې تندي او هیلې ته په درناوی، د هېواد ولسمشر اشرف غني د روژې د مبارکې میاشت له ۲۷مې د اختر تر پنځمې او پرون یې تر نا مالوم مهاله طالبانو سره اوربند اعلان کړ. طالبانو هم چې سینه کې افغان زړه لري او ځان د افغانانو په دردونو او کړاوونو دردمن بولي، د ولسمشر غږ ته هرکلی ووایه، د اختر درې ورځې یې اوربند پلی کړ او تمه ده چې دا اوربند لاپسې وغځیږي او په پای کې هېواد ته دایمي سوله راوړی!
د اوربند په اړه د افغانانو خوښي او خوشالي هیڅ حد نه لري. په تېرو څو لسیزو کې دا لومړی کوچنی اختر دی چې افغانان یې بې جګړې تېروي او د اوربند له برکته د جګړې د توري او اوږدې څمڅې په بل سر کې د سولې د رڼا څرک ویني.
د **کندهار** ۵۰ کلن خوږه پخوونکی شمس الدین د خپلو دوه زامنو سره خوږه پخوي، وایی کله چې ما د اوربند په اړه د دواړو لورو او خلکو خوښی ولیده، هیڅ باور مې نه راته او له ډېرې خوښی مې کړایي وسوځید او اوبو ته مې وغورځاوه. همداراز فیض الله د کندهار د هوایي ډګر سرتیری، وایی خپل کلي ته شپږکاله وروسته ولاړ.
د ننګرهار د **خوګیانو په میمله** کې ولس، سرتیري او طالبان چې ګاډي کې ګډ سپاره دي، وایی چې دا اختر غبرګ اختر دی او موږ ټول سوله غواړو.
د طالبانو سرګروپ (زرقاوي) وایی په **کامي ولسوالی** کې مو شیریخ وخوړ او په ټوله لار ځای پرځای راته د سرتېرو لخوا هرکلی او د اختر مبارکی وویل شوه.
د اختر په دوهمه ورځ هم ولسمشر غني په خپله وینا کې د اعلان شوي اوربند ملاتړ وکړ او ویې ویل، «څو ورځې مخکې چې د اوربند لپاره یې امادګي نیوله، اکثرو شک درلود او فکر یې کاوه چې اول به طالبان دا ونه مني، بل به دا څنګه عملي کیږي؟ خو له اوربند سره دا شکونه او ابهامات ختم شول او همدارنګه له اوربند سره د ډېرو سیاسیونو او تحلیلګرانو فرضیې غلطې ثابتې شوې»
همدا راز ولسمشر زیاته کړه« د افغانانو دغه ابتکار ثابته کړه چې استثنایي خلک دي او ډېر هغه کارونه چې په نوره نړۍ کې ناممکن دي دلته واقع کېدای شي.»
د اوربند او سولې په اړه، له بده مرغه ځینې کړی اوس هم دې بهیر ته د شک او دښمنی په سترګه ګوري او وایي چې په دې اړه ملي او نړیواله اجماع نشته. له دې ډلې یو هم امرالله صالح او بل یې عبدالرب رسول سیاف دی. ځینې دا هم وایي« فریب نخورید، اتش بس بهانه است. هردوطرف جنگ را پشتون ساخته اند، هم طالب و داعش پشتون است و هم حکومت در اختیار پشتونها! در این میان فقط دیگر اقوام به نابودی کشانیده شده اند، افغان پیپر»
د **خبرې رسنی جمهور**، د رپوټ له مخې امرالله صالح وایی«ما آگاهی از بحث ستراتیژیک، منطقوی و دلایل اجماع جهانی مبنی بر اینکه به یک بارگی طرفدار آتش بس‌اند نداریم. او با طرح 13 نکته و پرسش درباره آتش‌بس کنونی در کشور، نسبت به آن به دیده شک و تردید نگریسته است.»

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

امرالله صالح دا هم زیاتوي« همین اکنون سخن از سه پرچم و سه بیرق است. بیرق ملی که از آن دولت دفاع می‌کند و حرمت می‌کند. پرچم طالبان که از آن نیز با سلاح حراست می‌شود. **استفاده از پرچم مخلوع حکومت مجاهدین نیز به عنوان نماد ضد طالب در حالت گسترش است**، دا لیکه ما پنډه کړي ده»
بل پلو سیاف هم وایي «د دواړو لوریو تر منځ پر شوي اوربند خوښ نه یم، طالبان باید به سملاسي توګه وسلې پر ځمکه کیږدي او د سولې له پروسې سره دې یوځای شي. کابل ټکی کام»
خو ولسمشر غني وایی« د سولې په اړه په ملي کچه اجماع موجوده ده» او زیاتوي«د دغې اجماع ښه نمونه د اختر لمانځه په وخت جوماتونو او عیدګاه ګانو کې د طالبانو او حکومتي افرادو په ګډه لمونځ ادا کول دي. دواړو طرفونو د معمول خلاف د سولې او خوشالۍ ترانې زمزمه کړې، چې دا خبره د دغې اجماع په رښتینولۍ او صداقت دلالت کوي. په لوګر، کندهار، فاریاب، کندز، زابل، میدان ښار، ننګرهار، لغمان او په ټول هېواد کې د اختر په خطبو کې فضا کاملاً بدله وه، ټولو دیني علماوو د اسلام له نظره د سولې په ارزښت، اهمیت او ضرورت ویناوې کړي دي.»
خو د اوربند او سولې په اړه د امرالله صالح او نورو مخالفینو د ادعا په توپیر، نړیواله اجماع هم شتون لري.
د علماوو نړیوالي ټولني (الاتحاد العالمي لعلماء المسلمین) «د افغانستان اوربند ملاتړ وکړ، هغه یې یو مبارک اقدام وباله. او له ښکیلو اړخونو یې وغوښتل چې افغانستان کې د سولې او امن لپاره دې دا اوربند تر سولې پورې وغځوي او دا یې موجوده وخت کې د افغانستان لپاره خورا مهم بللی دی.»
د دې ټولني مسوول شیخ علي محیي الدین القره داغي له دولت او طالبانو په ټینګار غواړي «دا اوربند باید په سوله بدل کړي، کابل ټکی کام»
بلخوا اروپایي ټولني، امریکا، برتانیه او د ملګرو ملتو ټولني ټولو په یوه غږ له اوربند او افغان سولې خپل ملاتړ اعلان کړی.
د امرالله صالح د دې غولوونکي ادعا په اړه چې وایی«چرا هیچ یک از **شخصیت‌های مهم و مطرح حوزه ضد طالبانی** در جریان جزییات این آتش بس قرار ندارند؟ او یا د نوموړي د دې ادعا په اړه چې وایي «همین اکنون سخن از سه پرچم و سه بیرق است. بیرق ملی که از آن دولت دفاع می‌کند و حرمت می‌کند. پرچم طالبان که از آن نیز با سلاح حراست می‌شود. استفاده از **پرچم مخلوع حکومت مجاهدین** نیز به عنوان نماد ضد طالب در حالت گسترش است» د سولې شورا مشر کریم خلیلي وایی«د طالب مشرانو سره مو د ویډیو کنفرانس له لارې خبرې کړي، په کراتو د جمهور رئیس او د سولې د عالي شورا له خوا هم دا اعلان شوی، چې مونږ یوه باعزته سوله غواړو، د طالبانو تسلیمیدل نه غواړو، په کراتو مو ویلي، هرڅوک چې، د طالبانو د تسلیمیدلو شعارونه ورکوي، هغوی ورته لاره ورکوي، مونږ د دواړو غاړو عزت غواړو، که هغوی د کوټه سنګي د پل په ساحه کې د ټوپک پرته خپل بیرغ اوچت کړي، ایا دا کوم برتري ده، زه په دې باور یم چې دا حق ورکړو هرطالب چې د طالبي جنګي سیاست یا د جنګي سیاست څخه لاس واخلي، خپل بیرغ که په هرځای کې پورته کړي، مونږ باید پرې اعتراض ونه کړو. په کابل کې ټول سیاسي جریانونه خپل خپل بیرغونه لري.»
امرالله صالح د «پرچم مجاهدین در حالت گسترش است و شخصیت‌های مهم و مطرح حوزه ضد طالباني» له لمسوونکو ادعاوو وراخوا، خپله ۱۳ ماده یزه لیکنه کې نورې ادعاوې هم عرضه کوي او زیاتوي«من اطلاع دارم که مردم با ناامیدی از روش دولت خود تلاش به مسلح شدن و مقاومت‌های مردمی دارند»
اوس نو خبره ښکاره شوه، د اوربند او سولې په وړاندې امرالله صالح او هغه ته ورته کسان لکه ضیا مسعود به په شمال کې اسلامي جمعیت او نورو ډلو ته وسلې ویشي او د دوی په ژبه«مقاومت های مردمی!» ته به هڅول کیږي او بلخوا ننګرهار کې به د سولې نور دښمنان د اوربند په مهال عام ولس وژني. دا ځل به جمعیت شمال او داعش به ختیځ او سویل کې جګړه مخ ته وړي.
خو دواړه ډلې باید وپوهیږي افغانان به بلاخره په دواړو جګړه مارو ډلو بریالي شي او دایمی سوله او امنیت به خپل کړی!

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ